قرآني بيان

# د جَنَّتيانو او د دوزخيانو

# مکالمه

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)

لاندې جوماتونو د پاره

په 20 مارچ، کال 2026ء

(بمطابق: 30 رَمَضَانُ المُبَارَک، کال 1447ھ) د جُمعَۃُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندي جوماتونو د پاره

پهٔ 20 مارچ، کال 2026ء (بمطابق: 30 رَمَضَانُ المُبَارَک، کال 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

## قرآني بیان

پهٔ نوم

# د جَنَّتیانو او د دوزخیانو مکالــمه

په دي بیان کښي به تاسو زده کړئ...

- ـــ الوداع الوداع ماهِ رمضان ---!!
- ـــ د بے نـمانځه سپیرهٔ والـے
- ـــ د دوزخیانو 4 جُرمونه
- ـــ د لیلة القدر فضیلتونه

پیشکش

اَلْـمَـدِیْـنَـةُالْـعِـلْـمِـیَـة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَ اَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم: مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا، وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ عَشْرًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ مِائَةً، وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ مِائَةً كَتَبَ اللهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ بَرَاءَةً مِنَ النِّفَاقِ، وَبَرَاءَةً مِنَ النَّارِ، وَاَسْكَنَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الشُّهَدَاءِ۔

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې په ما باندې يو ځل دُرُود پاک ولوستلو، الله پاک په هغهٔ باندې 10 رحمتونه نازلوي او چا چې په ما باندې 10 کرته درود ولوستلو، الله پاک په هغهٔ باندې 100 رحمتونه نازلوي او چا چې په ما باندې 100 کرته درود شريف ولوستلو، الله پاک د هغهٔ د دواړو سترګو ترمينځه وليکي چې دا بنده د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به د قيامت په ورځ د شهيدانو سره ساتي- (1)

بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحسن پر
سدا سلام کہو! عمر بھر درود پڑھو!

[1]… معجم اوسط، من اسمه محمد، جلد:5، صفحه:252، حديث:7235۔

عبث گناہوں کی شامت میں مارے پھرتے ہو
خدا کی تم پہ ہو رحمت اگر درود پڑھو [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم(الله پاک قرآنِ کريم کښې فرمائي):

فِيْ جَنّٰتٍ ۛ يَتَسَآءَلُوْنَ ۝٤٠ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ۝٤١ مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ۝٤٢
قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ۝٤٣ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ۝٤٤ وَكُنَّا
نَخُوْضُ مَعَ الْخَآئِضِيْنَ ۝٤٥ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۝٤٦ حَتّٰى
اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ۝٤٧ (پارہ: 29، سورۂ مدثر: 40 تا 47)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صلّى الله عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: [پهٔ] باغونو کښې به وي- هغوئي به تپوس کوي- د مُجرمانو نه- کوم څيز تاسو دوزخ ته بوتلئ- هغوئي به وائي: مونږه د نـمونځ ګزارو نه نهٔ وو- او په مسکينانو به مو خوراک نهٔ خوړلو- او بے حيا فکر والؤ سره به مو د بے حيا خبرو سوچونه کول- او مونږ به د اِنصاف ورځ دروغ ګڼله- تر دې چې مونږ له مرګ راغلے-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اَلْوَداع اَلْوَداع ماهِ رمضان ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د رمضان اخري ساع تونه دي، آه! رَمَضَانُ الْمُبَارَک راغلو او لاړو هم---!! يو څو ورځې مخکښې خبره ده، عاشقانِ رسول انتظار کولو چې رَمَضَانُ

[1] … نورِ ايمان، صفحه:57۔

المُبَارَک راتلونکے دے- د رَمَضَانُ المُبَارَک تیاری کیدلې خو دا د برکت والا ورځې په تیزی سره تیریدلې- آه! ډیر افسوس! بس د روژې مبارکه میاشت زمونږ نه رخصتیږي-

آہ! رمضان اب جا رہا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے
جلد رخصت کا وقت آگیا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے
اشک آنکھوں سے اب بہہ رہے ہیں | ہجر کا غم جو ہم سہ رہے ہیں
وہ دِلِ غمزدہ جانتا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے
کر کے تقسیم بخشش کی اَسناد | آہ! رنجیدہ دِل کرکے تُو شاد
سب کو روتا ہوا چھوڑتا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے(1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اوس لا یو څو ساعتونه پاتې دي، دا مبارک ساعتونه به ډیر زر ختم شي، دا مبارک ساعتونه غنیمت وګڼئ او ❀ بنه ډیرې توبې او اِستغفار اوکړئ ❀ څومره چې درنه کیدے شي نیکۍ اوکړئ ❀ خپل وخت د الله پاک په ذِکر کښې تیر کړئ ❀ په دُرُودِ پاک خپل زړۀ روښانه کړئ ولې چې په ژوند کښې به مو بیا د رمضان میاشت نصیب کیږي او که نه، د دې زمونږ سره هیڅ ګارنټي نشته-

الٰہی! رہ گئے رمضاں کے آخِری روزے
رہائی نارِ جہنّم سے ہو عطا یاربّ!
اِلٰہی! رِہ گئیں رمضاں کی آخِری گھڑیاں
کرم سے بخش بھی دے ہم کو یاخُدا! یاربّ!(2)

الله پاک دې مونږ ته د دې مبارکو ساعتونو د غنیمت ګڼلو او په دې کښې د بنه ډیرو

---

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:683 ملتقطًا-

2 ...وسائلِ فردوس، صفحه:28-

نیکو د کولو او د بخښنې د ذریعې جوړېدو توفیق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږ پۀ شروع کښې د 29 سیپارې، د سورۀ مُدَّثِّر د آیت 40 نه د 47 پورې یعنې د 8 آیتونو د اوریدو سعادت حاصل کړو، پۀ دې آیتونو کښې د قیامت یو منظر بیان کړے شوے دے، دا د جَنَّتیانو او د دوزخیانو ترمینځه کیدونکې یوه مکالــمه ده، پۀ خپل مینځ کښې خبرې اترې دي، دا خبرې به کله کیږي؟ جَنَّتیان به ترینه څۀ پوښتنه کوي؟ دوزخیان به څۀ جواب ورکوي؟ راځئ چې قرآني آیتونه او د هغې وضاحت واورو، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فِیْ جَنّٰتٍ ﱨ یَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۴۰﴾ عَنِ الْمُجْرِمِیْنَ ﴿۴۱﴾ (پاره:29، سورۀ المُدثر:4140) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: [پۀ] باغونو کښې به وي- هغوئي به تپوس کوي- د مجُرمانو نه- |

یعنې جَنَّتیان به پۀ جَنَّت کښې اوسیږي او د دوزخیانو نه به پوښتنه کوي- حضرت عبد الله ابن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د قیامت پۀ ورځ به زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او نور انبیائے کرام عَلَیهِمُ السَّلام، حضرت جبریل عَلَيْهِ السَّلَام او نورې فرښتے، د هغوئي نه پس صدیقین او شهیدان، دا ټول د ګنهګارانو مسلمانانو شفاعت کوي، د دې پورې چې ټولو جَنَّتیانو (یعنې ګنهګارانو مسلمانانو کومو ته چې اخر هم جَنَّت ته راتلل وو) پۀ جَنَّت کښې او ټولو دوزخیانو (یعنې کافرانو کومو ته چې همیشه هم پۀ دوزخ کښې اوسیدل دي)، دوئي به پۀ دوزخ کښې پاتې شي، بیا به جَنَّتیان پۀ جَنَّت

کښې اوسیږي او د دوزخیانو نه به پوښتنه کوي: [1]

| | |
|---|---|
| مَاسَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ﴿٤٢﴾<br>(پاره:29، سورۂ المُدثر:42) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: کوم خیز تاسو دوزخ ته بوتلئ- |

د جَنَّتیانو د دې پوښتنې پهٔ جواب کښې به پهٔ دوزخ کښې موجود کافران هم د دوزخ نه پهٔ جواب کښې خپل دا 4 جُرمونه وشمیري:

| | |
|---|---|
| قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿٤٣﴾ وَ لَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَ كُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآىٕضِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَ كُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿٤٦﴾ حَتّٰۤى اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ﴿٤٧﴾<br>(پاره:29، سورۂ المُدثر:43 تا 47) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغوئي به وائي: مونږه د نـمونځ ګزارو نه نهٔ وو- او پهٔ مسکینانو به مو خوراک نهٔ خوړلو- او بے حیا فکر والؤ سره به مو د بے حیا خبرو سوچونه کول- او مونږ به د اِنصاف ورځ دروغ ګڼله- تر دې چې مونږ لره مرګ راغلے- |

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا 4 جُرمونه دي، کوم چې دوزخ ته بوتلونکي دي، مونږ له پکار دي چې ځان د دې څلورو جُرمونو نه بچ کړو، د روژې د میاشتې اخري ساعتونه دي، ځکه د دې برکتي ورځو د برکت حاصلولو سره مونږ له نن دا پوخ رښتونے نیت کول پکار دي چې مونږ به دوزخ ته د بوتلونکو دې څلورو جُرمونو نه ټول عمر ځان بچ ساتو- کوم کوم جُرمونه دي؟

## (1): د دوزخیانو وړومبے جُرم: نـمونځ نهٔ کول

دوزخیان به خپل وړومبے جُرم بیانوي او وائي به:

[1] … تفسیر قرطبی، پاره:1، سورۂ مدثر، زیر آیت:42، جلد:10، صفحه:57۔

| قَالُوۡا لَمۡ نَکُ مِنَ الۡمُصَلِّیۡنَ ﴿۴۳﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: مونږه د |
| --- | --- |
| (پاره:29، سورۃ المُدثر:43) | نـمونځ ګزارو نه نهٔ وو- |

د دې نه معلومه شوه چې نـمونځ نهٔ کول دا دوزخ ته د بوتللو وجه ده- ياد ساتئ چې يو دې د نـمونځ د فرض کېدو نه اِنکار کول، که يو ګس مَعَاذَ الله! د نـمونځ د فرض کېدو نه اِنکار اوکړي نو هغه کافِر کيږي او د اِسلام نه پرې ووځي او خُدائے دې نهٔ کړي که پهٔ دې حالت کښې مړ شو نو پوخ دوزخي به وي او د هميشه هميشه د پاره به پهٔ دوزخ کښې وي- خو هُغه ګس کوم چې نـمونځ خو فرض مني خو کوي يـې نهٔ، دهٔ له هم عبرت حاصلول پکار دي ځکه چې دوزخيان به دا نهٔ وائي چې مونږ نـمونځ فرض نهٔ منلو بلکې هغوئي به وائي چې مونږ نـمونځ نهٔ کولو، معلومه شوه چې دا د مسلمانئ نخښه ده او نـمونځ نهٔ کول دا د کافرانو طريقه ده- افسوس دے پهٔ هُغه نادانو مسلمانانو باندې کوم چې نـمونځونه فرض خو مني خو د دې باوجود پهٔ نـمونځ کښې ناراستي کوي-

❁ پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زمونږ او د کافرانو ترمينځه فرق نـمونځ دے-[1] ❁ پهٔ يو **حديث** شريف کښې فرمائي: چا چې قصداً نـمونځ پريښودو، بے شکه د الله پاک ذِمه د هغهٔ نه بَري ده-[2]

يعني د نـمونځ پهٔ برکت اِنسان ❁ پهٔ دُنيا کښې د افتونو نه ❁ د مرګ پهٔ وخت د خرابې خاتمې نه ❁ پهٔ قبر کښې پهٔ اِمتحان کښې د فيل کېدو نه ❁ پهٔ حشر کښې به د مصيبتونو نه پهٔ اَمن کښې وي، لهذا چې څوک قصداً عمداً نـمونځ پريږدي، هغه د الله پاک پهٔ اَمان کښې نهٔ وي-

---

1... ترمذی، کتاب الایمان، ماجاء فی ترک الصلاۃ، صفحه:618، حديث:2621۔

2... مصنف عبد الرزاق، باب من ترک الصلاۃ، جلد:3، صفحه:41، حديث:5022۔

## د بې نـمانځې سپيرۀ والے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نـمونځ نۀ کول څومره د سپيرۀ والي والا عمل دے، د دې اندازه د دې حکايت نه ولګوئ چې يو ځل د الله پاک خوږ نبي حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پۀ يو غر تيريدلو، هغوئي وليدلو چې هلته يو ښار دے، الله پاک هغه ښار ته بے شميره نعمتونه عطا کړي دي، هلته باغونه دي، ګلونه ميوې دي، هلته د اوسيدونکو سره خاروي هم شته او ټول د الله پاک اطاعت او عبادت کوي او خوشحاله ژوند تيروي، هغه ښار والؤ چې کله د الله پاک نبي حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام وليدلو نو د هغوئي يـې ډير عزت اوکړو او ډير د اِحترام والا سلوک يـې ورسره اوکړو-

درې کاله پس حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام بيا پۀ هغه ځائے تيريدلو نو هغوئي چي وليدل نو حيران پاتې شو چې د هغه ښار باغونه او کورونه شاړ پراتۀ دي، نهرونه او چينې يـې وچې شوې دي، اوس نۀ هلته ګلونه وو او نۀ ميوې، نۀ خاروي، نۀ څوک اِنسان هلته اوسيدو- داسې ښکلے ښار يـې چې پۀ دومره خراب حالت کښې وليدو نو حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک پۀ دربار کښې عرض اوکړو: اِلٰهی! ❀ د دې ښار خلق پۀ کوم مصيبت کښې راګير شول؟ ❀ د دوئي د ونو، چينو او د ودانو د بربادۍ څۀ سبب دے؟ ❀ دوئي د نظره شول؟ ❀ يا چا پۀ دوئي باندې جادو اوکړو؟ ❀ کوم دښمن دوئي له ماتې ورکړه ❀ يا ستا د اطاعت او فرمانبردارۍ پۀ پريښودو دوئي ته سزا ميلاؤ شوې ده؟ د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پۀ دې عرض باندې حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام پۀ خِدمت کښې حاضر شو او عرض يـې اوکړو: اے د الله پاک نبي عَلَيْهِ السَّلَام ! ❀ دا ښار نۀ خو د نظره شوے دے ❀ نۀ دوئي د الله پاک اطاعت پريښودے دے ❀ نۀ پۀ دوئي باندې جادو شوے دے- د دوئي د بربادۍ اصلي وجه دا جوړه شوه چې يوه ورځ پۀ دې ښار يو

بے نــمانځه تير شو، هغۀ د دوئي پۀ چينه کښې مخ وينځلو، د هُغه بے نــمانځه د مخ سره د لګيدونکو اوبو دا سپيرۀ والے وشو چې د هغوئي چينې وچې شوې، د هغوئي باغونه شاړ شول او ښار يې وران شو- بيا حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: اے عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام ! تاسو خو د بے نــمانځه د دُنيا سپيرۀ والے وليدلو، د قيامت پۀ ورځ به دوزخ هُم د بے نــمانځو نه ډکولے شي- [1]

| | |
|---|---|
| ہو گی دُنیا خراب، آخرت بھی خراب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| بےنمازی جہنّم کا حق دار ہے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| قبر میں سانپ بچھو لپٹ جائیں گے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| سہہ سکو گے نہ دوزخ کا ہرگز عذاب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| دیکھو! اللہ ناراض ہو جائے گا | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| یاخُدا! تجھ سے عطار کی ہے دُعا | مصطفٰے کی پڑھے پیاری اُمّت نماز |

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2): د دوزخيانو دويم جُرم: پۀ مسکينانانو خوراک نۀ کول

دوزخيان به د جَنَّتيانو د پوښتنې په جواب کښې خپل دويم جُرم بيانوي او وائي به:

| | |
|---|---|
| وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿٤٤﴾ (پاره:29، سورة المُدثر:44) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او پۀ مسکينانو به مو خوراک نۀ خوړلو- |

اَللّٰهُ اَكْبَر! معلومه شوه چې د مسکينانانو، غريبانو خيال نۀ ساتل، هغوئي له صدقه او خيرات نۀ ورکول د کافرانو طريقه ده- آه! افسوس! اوس پۀ مسلمانانو کښې هم د غريبانو

[1] ...انيس الجليس (مترجم)، صفحه:7-

او مسکینانو خیر خبر اخستو والا ډیر کم خلق دي-

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** که مونږ د خپلې معاشرې نه غریبي ختمه نۀ هم کړو نو کم از کم مونږ د خپلو یو څو پیسو په ذریعه د غریبانو په لوږه کښې څۀ کمے خو راوستے شو- آه! د غریبانو او مسکینانو مدد نۀ کول دا د کافرانو طریقه وه خو اوس داسې ډیر کافران دي کوم چې ویلفیئر سوسائیټیز [د خیر ښیګړې ادارې] چلوي خو یاد ساتئ چې د کافرانو دا اعمال د دُنیا پورې دي، دوئي ته به د دوئي د داسې اعمالو بدله هم په دُنیا کښې ورکولے کیږي، په اخرت کښې د دوئي د پاره هیڅ حصه نشته خو د مسلمان د پاره خو **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** په دُنیا کښې هم اَجر دے او په اخرت کښې هم د جَنَّت اعلیٰ نعمتونه دي، بے شکه صدقه او خیرات کوونکي کوي یې هم، د غریبانو مدد هم کوي خو دا کار صرف د یو څو کسانو نۀ دے بلکې د ټولو مسلمانانو دے، هر یو مسلمان له پکار دي چې څۀ نا څۀ صدقه او خیرات ضرور کوي، څوک چې غریبان دي هغوئي له هم پکار دي چې د صدقې او د خیرات کولو ذِهن جوړ کړي-

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** زمونږ دِینِ اِسلام خو مونږ ته د قربانۍ او همدردۍ سبق را کوي- زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چې کوم مسلمان د یو څیز خواهش لري، بیا خپل خواهش پریږدي او بل له ترجیح ورکړي نو هغه به بخښلے کیږي- (1)

**سُبْحٰنَ الله!** که مونږ د جَنَّت موندلو د پاره، د الله پاک نه د بخښنې د خیرات حاصلولو د پاره خپل خواهشات کم کړو، یو څو نمرۍ کمې وخورو او د خپل امدن نه یو څو پیسې بچ کړو او په غریبانو او مسکینانو باندې یې ولګوو نو اندازه ولګوئ چې الله

[1]... الکامل لابن عدی، رقم:1294، عمرو بن خالد، ابو خالد، جلد:6، صفحه:74۔

پاک به زمونږ نه خومره راضي کيږي او د دې قرباني پۀ برکت باندې به زمونږ پۀ اخرت کښې څنګه څنګه نعمتونه نصيب کيږي- الله پاک دې مونږ ټولو ته توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (3): د دوزخيانو دريم جُرم: د بے حيايۍ فِکرونه کول

دوزخيان به د جَنَّتيانو د پوښتنې پۀ جواب کښې خپل دريم جُرم بيانوي او وائي به:

| | |
|---|---|
| وَ كُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآىٕضِيْنَ ﴿۴۵﴾ (پارہ:29، سورۃ المُدثر:45) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے حيا فکر والؤ سره به مو د بے حيا خبرو سوچونه کول- |

حضرت قتاده رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د دې آيت معنیٰ بيانوي او فرمائي چې دوزخيان به وائي: كُلَّمَا غَوٰى غَاوٍ غَوَيْنَا مَعَهٗ يعنې کله چې يو کَس د ګمراهۍ پۀ لاره باندې روان وو مونږ به د هغۀ سره روانيدلو- [(1)]

معلومه شوه چې ❀ پۀ ګمراهانو پسې تلل ❀ د ګمراهۍ پۀ کارونو کښې زړۀ لګول او ❀ د نيکو نه ❀ د ښو کارونو نه مخ اړول هم د کافرانو طريقه ده او دوزخ ته بوتلونکے کار دے- آه! پۀ دې معامله کښې هم اوس د مسلمانانو حال عجيبه دے- چې څنګه د وخت د بربادولو څۀ ذريعه، د جَنَّت نه د لرې کيدو او دوزخ ته د نزدې کيدو والا، د حق د لارې نه د لرې کيدو څۀ څيز راشي نو ښځښنه غواړم ! د مسلمانانو يو يو تعداد د دې پۀ اِختيارولو کښې مخکښې مخکښې وي ❀ کله چې ***T.V*** راغلو

[1]... تفسير قرطبی، پارہ:29، سورۂ مدثر، زير آيت:45، جلد:10، صفحه:57۔

❁ فلمونه، ډرامې او سندرې باجې راغلې نو د علمائے کرامو د منع کولو باوجود په لږ وخت کښې دا د وائرس په شان بیماري زمونږ په معاشره کښې خوره شوې وه؟ ❁ آیا په هر کور کښې **V.C.R** ساتونکي مسلمانان نۀ وو؟ ❁ آیا د کیبل په ذریعه د غیر مسلمو چینل په خپلو کورونو کښې په لګولو د بے حیایۍ سبب جوړیدونکي مسلمانان نۀ وو؟ ❁ د سُنّتو خِلاف په جامو اِختیارولو کښې مسلمانان وړاندې وړاندې نۀ وو ❁ د ږیرو خریلو او د رسول اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت **مَعَاذَ اللّٰه**! په نالی کښې په غورځولو کښې مسلمانان وړاندې وړاندې نۀ وو ❁ سرتور سر د ګرځیدو رواج مسلمانانو اِختیار کړو ❁ بے پردګي، بے حیائي مونږ د خپلې معاشرې حصه جوړه کړه او ❁ اوس یې باقي پاتې کسر سوشل میډیا پوره کړو ❁ اینډرائیډ موبائل (***Android Mobile***) راغلو او د معاشرې بیړه یې غرقه کړه ❁ آیا دا ټولې ګمراهۍ، بے حیایۍ، د دِین او د جَنَّت نه لرې کونکې ذریعې مسلمانانو اِختیار نۀ کړې؟-

بیا د دې سره سره په دې باندې هم غور اوکړئ چې ❁ د سُنَّتو مطابق ږیره پریښودونکي له پیغورونه ورکونکي څوک دي؟ ❁ په علمائے کرامو پسې خندا کوونکي او د دوزخ حقدار جوړیدونکي څوک دي؟ ❁ مبلغینو ته په ترس نظر کتونکي ❁ په دروغو وئیلو سره تجارت کوونکي ❁ د دروغو ملاتړ کوونکي ❁ د بے دِینو د پاره لاره هواروونکي دا ټول څوک دي؟ ❁ آیا مسلمانان نن دا هر څۀ نۀ کوي؟ که کوي یې نو بیا د زړۀ په غوږونو، د عبرت د پاره د دوزخیانو دا جواب د قرآنِ کریم په ژبه واورئ او غور اوکړئ چې دا کارونه د چا دي، اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ كُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۟ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او مونږ به د اِنصاف ورځ دروغ ګڼله- |
| (پاره:29، سورۀ المُدثر:46) | |

نہ سمجھوگے تو مٹ جاؤ گے اے مسلمانو!

تمہاری داستاں تک نہ رہے گی، داستانوں میں

ياد ساتئ چې ❀ زمونږ هدايت پۀ قرآنِ كريم كښې دے ❀ زمونږ هدايت پۀ حديثونو مباركو كښې دے ❀ زمونږ آئيډيل كردار زمونږ د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے ❀ مونږ د صحابۀ كرامو عليهمُ الرِّضوَان پۀ نقشِ سيرت باندې تلونكي يو ❀ مونږ د اوليائے كرامو رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم نه فيض حاصلوونكي يو- مونږ ته د هر يو څيز د اِختيارولو نه مخكښې دا سوچ كول دي چې دا څيز زمونږ دِين ته نقصان خو نۀ رسوي، آيا دا څيز، دا عادت، دا روايت، دا رسم او رواج خو به ما د ګمراهۍ طرف ته نۀ بوځي، كه مونږ دا وه نۀ كړل بلكې پۀ هر ځليدونكي څيز (يعنې د كافرانو طور طريقې مو) بغير د سوچ نه اختيار كړې نو ياد ساتئ چې د ګمراهانو پۀ لاره باندې تلل د مسلمانانو نۀ بلكې د كافرانو طريقه ده- الله پاک دې مونږ ټولو ته هميشه د ګمراهو نه د بچ كيدو توفيق راعطا كړي، مونږ ټولو ته دې د رښتوني، پوخ او حقيقي مسلمان جوړيدو توفيق راعطا كړي- راځئ چې پۀ شريكه دُعا اوكړو-

مُعَاف فضل وکرم سے ہو ہر خطا یارَبّ
ہو مغفرت پئے سلطانِ انبیاء یارَبّ!
نبی کا صدقہ سدا کے لیے تو راضی ہو
کبھی بھی ہونا نہ ناراض یاخُدا! یَارَبّ!
ہمارے دِل سے نکل جائے اُلفتِ دُنیا
دے دِل میں عشق محمد مرے رچا یارَبّ![1]

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:82۔

## (4): د دوزخیانو څلورم جُرم: د قیامت نه اِنکار

د قیامت په ورځ باندې چې کله جَنَّتیان د دوزخیانو نه پوښتنه اوکړي چې تاسو په څۀ وجه دوزخ ته راورسیدئ نو دوزخیان به په جواب کښې خپل څلورم جُرم بیان کړي او وائي به:

| | |
|---|---|
| وَ كُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۝ حَتّٰٓى اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ۝ (پاره:29، سورۂ المُدثر:4746) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او مونږ به د اِنصاف ورځ دروغ ګڼله- تر دې چې مونږ له مرګ راغلے- |

د دې نه معلومه شوه چې د کفر او دښمنۍ او بد عملۍ لوئي وجه د قیامت نه اِنکار یا دا هیرول دي- مونږ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مسلمانان یو او مونږ په قیامت باندې یقین هم لرو، څوک چې مَعَاذَ اللّٰه! د قیامت نه اِنکار اوکړي هغه خو هډو مسلمان نۀ پاتې کیږي بلکې کافِر کیږي - بے شکه هر مسلمان په قیامت باندې اِیمان او یقین لري خو د قیامت په باره کښې د خپل یقین د حالت متعلق لږ شان د غور کولو ضرورت دے، قرآنِ کریم د مسلمانانو صفتونه بیانوي فرمائي :

| | |
|---|---|
| وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝ (پاره:1، سورۂ البقرة:4) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او په اخرت باندې یقین لري- |

بے شکه مونږ په قیامت باندې داسې پوخ یقین لرو خو افسوس چې د دُنیا محبت مو په زړۀ کښې داسې کور کړے دے چې د قیامت د یقین لرلو باوجود د دې یقین په نتیجه کښې په میلاؤیدونکي حالت کښې کمے راغلے دے ګڼې نو وګورئ چې زمونږ دا یقین دے چې وور سیزل کوي او د دې نه مو هم زیات پوخ یقین دے چې قیامت به

ضرور راځي، د دې باوجود ځوک چرې په هیره هم وور له لاس نۀ وروړي خو ګناهونه کوم چې د قیامت په ورځ د سخت نقصان سبب جوړیدے شي، دا قصداً کولے شي-

معلومه شوه چې زمونږ په قیامت باندې یقین خو بے شکه چې دے خو د دُنیا محبت، د مال او د دولت محبت، حرص او لالچ او د ګناهونو تور والي د دې یقین په نتیجه کښې د پیدا کیدونکي د الله پاک د ویرې والا حالت تت کړے دے، د دې نقصان دا وشو چې مونږ په ګناهونو باندې ډاډه شو، په زړۀ کښې د الله پاک نه ویره کمه شوه، ځینې نادانه خو داسې بے باکه هم دي چې د هغوئي مزاج دے: څۀ چې کیږي ګورو به ❀ که ځوک د نـمونځ دعوت ورکړي ❀ قبر او اخرت وریاد کړي ❀ د قبر د تیارۍ ذِهن یـې جوړ کړي ❀ جَنَّت ته د بوتلونکو اعمالو ترغیب ورکړي ❀ دوزخ ته د بوتلونکو کارونو نه د بچ کیدو ذِهن ورکړي نو وائي: مولانا صیب! الله پاک ډیر مهربانه دے، د قیامت په ورځ چې څۀ کیږي ګورو به -

**د الله پاک پناه!** دا د سخت جهالت او د بے باکۍ والا جمله ده- په حقیقت کښې د کتلو مقام قبر او اخرت نۀ دے، د کتلو ځائے خو دُنیا ده، دلته کتل پکار دي چې مونږ څۀ کوو، الله پاک په قرآنِ مجید کښې اِرشاد فرمائیلے دے:

| | |
|---|---|
| وَلۡتَنۡظُرۡ نَفۡسٌ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٍ ۚ<br>(پاره:28، سورۀ الحشر:18) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هر ګس وګوري چې هغۀ د سبا د پاره مخکښې څۀ لیږلي دي- |

دا د قرآنِ پاک حکم د دې دُنیا د پاره دے، په دې دُنیا کښې کتل دي چې ❀ مونږ د اخرت د پاره څۀ کوو ❀ د قبر د پاره څومره تیارے کیږي ❀ نیکۍ څومره کوو ❀ د ګناهونو نه بچ کیږو که نۀ، څنګه چې مونږ د دې دُنیا نه ځو، مرګ راشي نو بیا به د

کتلو وخت ختم شي او د سزا او د جزا وخت به شروع شي،لهذا چې څۀ کتل دي، خپل جاج اخستل دي، د خپلو اعمالو حساب کتاب کول دي، د دُنيا پۀ دې ژوند کښې کول دي-
خير دا د کافرانو صفت دے چې هغوئي پۀ قيامت باندې يقين نۀ لري، مونږ مسلمانان يو، مونږ بے شکه چې قيامت منو، پۀ دې باندې يقين لرو، خو افسوس چې زمونږه کردار، زمونږ د ژوند تيرولو طور طريقې داسې رواني دي لکه چې مونږ به هډو مړۀ کيږو نۀ، هميشه به پۀ دې دُنيا کښې اوسيږو- حالانکې مونږ ته معلومه ده چې داسې هيڅکله هم نۀ ده، مونږ به مړۀ کيږو، پۀ قبر کښې پۀ زرګونو کاله قيام دے، بيا د قيامت پۀ ورځ باندې راپاڅيدل دي، د الله پاک پۀ دربار کښې پيش کيدل او د خپلو اعمالو حساب ورکول دي- پۀ خُدائے مې دې قَسم وي که د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرئ خيال زمونږ پۀ ذِهنونو کښې کښيني نو مونږ به پۀ صحيح معنو کښې مسلمانان شو، زمونږ د کيناستو پاڅيدو، ټک راټک، د ژوند د تيرولو انداز به هم بالکل بدل شي څکه چې د قيامت د سوچ کولو سره زړۀ نرميږي، د ګناهونو نه نفرت پيدا کيږي او د نيکو رغبت نصيب کيږي، څکه د دِين بزرګانو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم روزانه څۀ وخت د مرګ او د قبر او د اخرت پۀ باره کښې د غور او فِکر کولو نصيحت کړے دے، پۀ حديثِ پاک کښې هم د داسې فِکر پۀ باره کښې اِرشاد دے: د لږ ساعت د پاره غور او فِکر کول د ټولې شپې د قيام نه بهتر دے-
د حضرت اِبراهيم تيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ باره کښې منقول دي چې يوه ورځ هغوئي خيال کولو چې هغوئي پۀ دوزخ کښې دي او د وور پۀ زنځيرونو تړلے شوے زقوم (يعني زهريلا ازغنه ونه) خوري او د دوزخيانو وينې زغوې څښي، د دې خيال نه پس هغوئي د خپل

ځان نه پوښتنه اوکړه: وایه ستا څهٔ پکار دي (د دوزخ عذاب یا د دې نه نجات)؟ نفس ووئیل: (نجات پکار دے، دي دپاره ) زهٔ غواړم چې دُنیا ته واپس لاړ شم او داسې عمل اوکړم د کوم پهٔ وجه چې ما ته د دوزخ نه نجات حاصل شي- د دې نه پس هغوئي دا خیال اوکړو چې لکه هغوئي پهٔ جَنَّت کښې دي، د هُغه ځائے میوې خوري، د جَنَّتي نهرونو شربتونه څښي، د دې خیال کولو نه پس هغوئي د خپل ځان نه پوښتنه اوکړه: اے نفسه! ستا د کوم څیز خواهش دے (د جَنَّت که د دوزخ)؟ نفس ووئیل: (زما د جَنَّت خواهش دے، دي وجې نه ) زهٔ غواړم چې دُنیا ته لاړ شم او نیک عمل اوکړم د پاره د دې چې د جَنَّت ډیر نعمتونه بیامونځم- د دې نه پس هغوئي خپل ځان ته وفرمائیل: اے نفسه! فِي الـحال تا ته مهلت میلاؤ شو(یعنې لا اوس تهٔ پهٔ دُنیا کښې یـې، نیک اعمال اوکړه او د جَنَّت تیاري اوکړه)- [1]

کچھ نیکیاں کما لے، جلد آخرت بنا لے | کوئی نہیں بھروسہ اے بھائی زندگی کا[2]

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

اے کاش چې زمونږ هم د قبر او د اخرت او د قیامت د معاملو پهٔ باره کښې د غور او فِکر عادت جوړ شي- کاش چې که روزانه نهٔ وي نو کـم از کـم پهٔ هفته کښې یو ځل هدیرې ته حاضري نصیب شي، د قبرونو پهٔ یادولو د مرګ د یادولو توفیق نصیب شي- یو ځل یو کَس دربارِ رسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او د زړهٔ د سختۍ شکایت یـې اوکړو، خوږ آقا او مولیٰ، د دواړو جهانو داتا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: قبرونو ته ګوره او د حشر پهٔ ورځ د راپاڅیدو پهٔ باره کښې غور او فِکر کوه- [3]

---

[1]... حلیة الاولیاء، یزید بن شریک التیمی، جلد:4، صفحه:235، رقم:3561۔

[2]... وسائل بخشش، صفحه:178۔

[3]... اَرْبَعِیْنِیّات لِابْنِ کمال پاشا، صفحه:69۔

معلومه شوه چي هديرې ته تلل او هلته پۀ فضول کارونو کښې د مصروفه کيدو پۀ ځائے د اخرت پۀ معامله کښي غور او فِکر کول زړۀ نرموي او د ګناهونو نه نفرت پيدا کوي- الله پاک دې مونږ ټول د دِين او د شريعت پۀ تعليماتو باندې عمل کوونکي او پۀ سُنَّتو باندې تلل نصيب کړي او هر وخت دې راته د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ د خيال کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ليـلةُ الـجائِزه (د اختر پۀ شپه) کښې د عبادت ترغيب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! آه---!! ماهِ رمضان زمونږ نه جُدا کيږي، ماهِ ذِيشان مونږه پريږدي، د دې مبارکې مياشت هر سعت د رحمت نه ډک دے، الله پاک که يو خوا مونږ ته د ليـلةُ الـقدر پۀ شان عظيمه شپه عطا کړې ده نو بل خوا يـې د دې مبارکې مياشت نه فوراً پس ليـلةُ الـجائِزه يعني د انعام شپه هم راعطا کړې ده ❁ پۀ دې شپه باندې الله پاک خپل رحمتونه نازلوي ❁ دا د بخښنې شپه ده ❁ دا شپه د خپل رَبّ د عبادت کولو شپه ده چې کوم بنده پۀ دې شپه باندې د الله پاک عبادت کوي الله پاک د هغۀ د پاره جَنَّت واجب کوي- (1) ❁ کوم بنده چې دا شپه د الله پاک پۀ عبادت کښې تيره کړي الله پاک به د هغۀ زړۀ نۀ مړ کوي- پۀ حديثِ پاک کښې دي: چا چې د عيدين (يعني د وړوکي اختر او د لوئې اختر) پۀ شپه د ثواب د طلب د پاره قيام اوکړو، پۀ هغه ورځ به د هغۀ زړۀ نۀ مړ کيږي، پۀ کومه ورځ چې به (د خلقو) زړونه مړه کيږي- (2) ❁ ټولو عاشقانِ رسول خاص طور اعتکاف کوونکو ته پکار دي چې دا شپه پۀ جوماتونو کښې د الله پاک پۀ عبادت کښې تيره کړي حضرت ابراهيم نَخَعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: بزرګانِ دِين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم به د اِعتِکاف کوونکو د پاره دا خبره خوښوله چې د وړوکي اختر شپه هم پۀ

---

[1]… الترغيب والترہيب، كتاب العيدين، الترغيب فی احياء ليلتی العيدين، صفحه:373، حديث:2۔

[2]… ابن ماجه، كتاب الصيام، باب فيمن قام فی ليلتی العيدين، صفحه:284، حديث:1782۔

جومات کښې تيره کړي-[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اِسلامک اِي بُک لائبريري (Islamic eBooks Library)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! کتابونه د اِنسان بهترين دوستان دي او دا د اِنسان د شخصيت په جوړولو او په اخلاقي وده او پرمختگ کښې ډير اهم کردار ترسره کوي- که کتابونه اِسلامي او روحاني وي نو هغه نور هم زيات قيمتي کيږي- د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو ايپلي کيشن جاري کړے دے- د کوم نوم چې دے: اِسلامِک اِي بکس لائبريري (Islamic eBooks Library) ❀ د دې نه د اُردو، انګريزي او د نورو ژبو په زرګونو اِسلامي کتابونه مفت ډاؤن لوډ کيدے شي ❀ په دې ايپلي کيشن کښې د ډيرو ليکوالو کتابونه موجود دي ❀ په ايپلي کيشن کښې کتابونه د ليکوالو د نومونو په لحاظ سره او د کتاب د موضوع په ذريعه هم لټولے کيدے شي ❀ په دې ايپلي کيشن کښې کتابونه ډاؤن لوډ کيدے او هغه د آف لائن لوستلو د پاره د پي ډي ايف په ذاتي لائبريرئ کښې محفوظ کيدے هم شي او ❀ د خپلې خوښې د کتابونو د (***Favorite***) کتابونو بيل لسټ هم شامليدے شي ❀ د دې ايپلي کيشن ډير لوئې خاصيت دا هم دے چې کوم کسان کتابونه نشي لوستلے يا د لوستلو وخت ورسره نۀ وي نو هغوئي د دې ايپلي کيشن په ذريعه کتابونه په آډيو کښې اوريدے هم شي ❀ دا ايپلي کيشن تاسو د فيس بُک، ټويټر او واټس ايپ په شان په مختلف پليټ فارمز د دوستانو سره شيئر کولے هم شئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ... فيضانِ رمضان، صفحه: 279، 280-

## د بیان په اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په کوته کول)

**مسئله:** د اودس کولو نه پس د جامو بدلولو سره اودس نهٔ ماتیږي-

**وضاحت:** ❀ په خلقو کښې دا خبره مشهوره ده چې څوک جامې بدلې کړې یا ستر یې ښکاره شي نو اودس یې ماتیږي- داسې نهٔ ده- د اودس نه پس د جامو ویستو سره اودس نهٔ ماتیږي او نهٔ د ستر ښکاره کیدو سره اودس ماتیږي ❀ البته بغیر د څهٔ وجهې نه ستر ښکاره کول چې د خلقو نظر پرې پریوځي ګناه ده، د نارینه د پاره د نوم نه د زنګونانو نه د ښکته پورې ټول وجود ستر دے- (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### یَا مُقْتَدِرُ

څوک چې روزانه 20 کرته یَا مُقْتَدِرُ لولي اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د رحمتونو په سورې کښې به وي- (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]… کنز العمال، کتاب الصلوٰۃ، الفصل الاول، جلد:7، صفحہ:134، حدیث:19097۔

[2]… مدنی پنج سورہ، صفحہ:255۔